# د ټاکنو خپلواک کمیسیون پرېکړه لیک

| | |
|---|---|
| **شمېره:** | ۴۵ـ ۱۳۹۳ |
| **موضوع:** | د ۱۳۹۳ کال د ولسمشریزو ټاکنو د دویم دور د رأیي ورکوني محلونو د ځانګړیو ګروپونو د پایلو فورمو بیاکتنه ؛ |
| **ځانګه:** | د ټاکنو خپلواک کمیسیون دارالانشاء |
| **د غونډې نېټه او ځای:** | د ۱۳۹۳ کال د وږي۱۶ مه، (د ۲۰۱۴ کال د سپتامبر۷ مه) د ټاکنو خپلواک کمیسیون مرکزي دفتر. |
| **حاضر غړي:** | ښاغلی ډاکتر احمد یوسف نورستاني، ښاغلی عبدالرحمن هوتکي، آغلي ګلالی اڅکزی، ښاغلی سرير احمد برمک، ښاغلی پوهاند محمد حسين ګرزيواني، ښاغلی محمد عزيز بختیاري، ښاغلی قاضي سليمان حامد، آغلي ليلا احراري او آغلي شريفه زرمتی وردک. |

د ټاکنو خپلواک کمیسیون او د ټاکنیزو شکایتونو د خپلواک کمیسیون د صلاحیتونو، دندو او تشکیل قانون د ۱۳ مې مادې، د ټاکنو قانون د ۵۸ او ۵۹ مادو د حکمونو او د افغانستان د ولسمشریزو ټاکنو د تخنیکي چوکاټ پر بنسټ چې د دواړو نوماندانو د ملګرو ملتو په منځګړیتوب ور باندې هوکړه کړې، د ټاکنو خپلواک کمیسیون په لاندې توګه پرېکړه وکړه:

- د ولسمشریزو ټاکنو د دویم دور رأیو صندوقونو د سل په سلو تفتیش په اړه ۲۷ شمېره پرېکړه لیک؛
- د ۱۳۹۳ کال د ولسمشریزو ټاکنو د دویم دور د رأیپانو صندوقونو د بیا شمېرنې او تفتیش طرزالعمل؛
- د ۱۳۹۳ کال د ولسمشریزو ټاکنو د دویم دور د ټولو صندوقونو د رأیو د بیا شمېرنې او ابطال په اړه ۳۳ شمېره پرېکړه لیک؛
- د ۱۳۹۳ کال د ولسمشریزو ټاکنو د دویم دور د رأیپانوو صندوقونو د بیا شمېرنې او تفتیش په اړه ۳۷ شمېره پرېکړه لیک؛
- او د تفتیش د طرزالمل په اړه د ۱۳۹۳ کال د زمري ۱۷ او ۲۷ نېټې توضیحات.

**د ټاکنو خپلواک کمیسیون پرېکړه وکړه چې:**

۱ . د ۱۳۹۳ کال د ولسمشریزو ټاکنو د دویم دور د رأیي ورکوني محلونو د ځانګړیو شویو ګروپونو د پایلو فورمو بیاکتنه:

د ۱۳۹۳ کال د ولسمشریزو ټاکنو د دویم دور د رأیي ورکوني محلونو د ځانګړیو شویو ګروپونو د پایلو فورمې باید په لاندې حالاتو کې بیاوکتل شي:

a) د رأیي ورکوني د هغو محلونو ټولګه چې په اړه یې نوماندانو ادعا کړې وي او د درغلی په اړ مشهود شواهد او مدارک وړاندې کړي؛

b) د رأیي ورکوني د هغو محلونو په اړه شکایت چې د پایلو فورمو کې یې د درغلیزو لاسلیکونو، ورته لاسلیکونو او داسې نورو د لیدو وړ لاسوهنو په اړه یې مشهود شواهد موجود وي چې په پایلو فورمې کې د لاسوهنې ښکاندویې وکړي او دغه موضوع د دغه ګروپ په ټولو محلونو کې عامه وي؛او

c) په دغه ګروپ کې د رأیي ورکوني ځانګړي شوي محلونه له یوه څخه په زیاتو مرکزونو کې شامل وي.

**۲ . د رأیي شمېرنې له بهیر څخه د رأیي ورکوني محلونو د ځانګړي شوي ګروپ د پایلو ابستل چې د پایلو په فورمو کې یې د لاسوهنې مدارک او شواهد موجود وي.**

د رأیي ورکوني د ځانګړي شوي ګروپ د پایلو فورمو له بیاکتنې وروسته د اړوند ځانګړي شوي ګروپ د رأیي ورکوني محلونو بشپړې پایلې، د رأیو د بیاشمېرنې له بهیر څخه وځي،که چېرې:

a) کم له کمه د رأيي ورکوني محلونو د ځانګړي شوي ګروپ يو صندوق له دې مخکې د تفتيش په بهير کې  د رأيو تفتيش د ۳۳ او ۳۷ شمېرو پرېکړه ليکونو پر بنسټ د ټاکنو خپلواک کميسيون له خوا له بهير څخه ايستل شوی وي؛ او

b) او په دغه ګروپ کې کم له کمه د رأيي ورکوني شامل محلونو يو صندوق د تفتيش په بهير کې د کميسيون د ۳۳ او ۳۷ شمېرو پرېکړه ليکونو د حکمونو پر بنسټ بيا شمېرل شوی وي او د دغې بياشمېرنې په پايله کې د بې نظميو او سرغړونو پراخ شاخصونه په کې موندل شوي وي.

**۳ . د څېړنې پلاوي رامنځته کول:**

د رأيي ورکوني محلونو د يو ځانګړي ګروپ د پايلو فورمو بياکتنه بايد د څېړنې د يو يا څو پلاوو له خوا تر سره شي. په دغه پلاوي کې بايد د ټاکنو خپلواک کميسيون لوړپوړي کارکوونکي او د ملګرو ملتونو سلاکاران شامل وي. البته له دغه پلاوي سره د مرستې له پاره به نور کارکوونکي هم وګمارل شي.

د باورليک لرونکيو کتوونکيو ګروپ  بايد د څېړنې پلاوي له کار څخه خبر واوسي او  هغوی ته به اجازه ورکړل شي چې يو تن کتوونکی يې د څېړنې پلاوي د غونډو له جريان څخه کتنه وکړي.

همدارنګه به باورليک لرونکيو رسنيو ته هم اجازه ورکړل شي چې د څېړنې پلاوي په غونډو کې ګډون وکړي او خلکو ته د دغه پلاوي له کار څخه پوهاوی ورکړي.

د څېړنې پلاوی بايد د خپل کار په ترڅ کې د چيک ليستونو معلوماتو ته چې د تفتيش په بهير کې چمتو شوي دي او د تفتيش ډيتابيس ته چې د کميسيون د ۳۷ مې شمېرې پرېکړه ليک پر بنسټ جوړ شوی، مراجعه وکړي.

دغه پلاوی همدا شان  کولی شي  داسې نورو اړوندو معلوماتو ته چې د ټاکنو خپلواک کميسيون او داسې نورو ګروپونو په واک کې دي چې د رأيي ورکونې په ځانګړيو شويو ګروپونو پورې اړه لري، مراجعه وکړي.

که چېرې ادعا د پايلو په بېلابېلو فورمو کې د ورته لاسليکونو په اړه وي، د څېړنې پلاوی بايد دا تشخيص کړي چې د پايلو په بېلابېلو فورمو کې د ورته لاسليکونو د توجيه له پاره واقعي او معتبر طرزالعملي بنسټ موجود دی.

**۴ . د څېړنې پلاوي له پاره سپارښتنې:**

د څېړنې پلاوی به د رأيي ورکوني محلونو د هر ګروپ په باره کې د پرېکړې په اړه خپلې سپارښتنې کميسيون ته وړاندې کوي.

دغه پلاوی چې کميسيون ته د خپلو سپارښتنو د وړاندې کولو مسووليت ولري؛ بايد يقيني کړي چې د هغوی تر لاس لاندې موجوده شواهدو بياکتنې لاندې موضوعات پېژندلي دي:

I. آيا د رأيي ورکوني له يوه څخه د زياتو مرکزونو د محلونو د يوه ګروپ د پايلو په فورمو کې د لاسوهنې مشهود مدارک شته دي، او آيا د پايلو په بېلابېلو فورمو کې د ورته لاسليکونو د توجيه له پاره طرزالعملي او واقعي بنسټ موجودی؛ او

II. آيا د تفتيش ډيتابيس دا تأييد کړې ده چې په اړوند ګروپ کې کم له کمه يو محل د ټاکنو خپلواک کميسيون د پرېکړې پر اساس باطل شوی دی. يا دا چې د دغه ګروپ دربيمه برخه بياشمېرنې ته وړاندې شوې او د جدي سرغړونې او بې نظمی ښودنه کوي.

| د پرېکړې موافق | د غړيو نومونه | د پرېکړې مخالف |
|---|---|---|
| | ښاغلی ډاکتر احمد يوسف نورستاني | |
| | ښاغلی عبدالرحمن هوتکی | |
| | آغلې ګلالۍ اڅکزۍ | |
| | ښاغلی سرير احمد برمک | |
| | ښاغلی پوهاند محمد حسين ګرزيواني | |
| | ښاغلی محمد عزيز بختياري | |
| | ښاغلی قاضي سليمان حامد | |
| | آغلې ليلا احراري | |
| | آغلې شريفه زرمتی وردک | |